ملګرو ملتونو ته په درېيمو هېوادونو کې د افغان خبريالانو د وضعيت په اړه د افغانستان له خبريالانو د ملاتړ سازمان (AJSO) پرانيستی ليک

To: His Excellency Mr. António Guterres
Secretary-General
United Nations Headquarters
New York, NY 10017 USA

27.04.2025

په تېرو دوو لسيزو کې افغان خبريالان له بې شمېره ننګونو او ستونزو سره مخ شوي او د مدني ټولنې د بنسټې ممثلينو په توګه يې هڅې کړې دي او بشري ټولنې فکرونه يې د هېواد سوکالۍ او په لور رهبري کړي او د دې موخې لپاره يې ګټور ګامونه اخيستي دي.
په تېرو دوو لسيزو کې د افغان خبريالانو د پام وړ بریاوو له شمېره کولای شو، چې د خلکو لپاره په کوچنيو او لويو ټولنيزو او سياسي چارو کې د ګډون لپاره د يوه پلیټ فارم جوړول یاد کړو، خو په افغانستان کې له وروستي سياسي بدلون وروسته افغان خبريالان تر بل هر وخت ډېر د تباهۍ کندې ته لوېدلي او د خبريالانو د ملاتړو بنسټونو او نړيوالو ټولنې له بې غورۍ د شکايت ترځنګ په بشپړه توګه هېر شوي دي.
هغه خبريالان چې موخې‌وړ هېوادونو ته د پناه اخيستلو په تکل په درېيمو هېوادونو کې مېشت دي، په ډېر سختو او ناڅرګندو شرايطو کې لا هم د رڼا څرک ته منتظر دي.

په درېيمو هېوادونو کې د افغان خبريالانو ستونزې، ننګونې او وضعيت:

اول: د خبريالانو د کډوالۍ د بهير اوږد ځنډ:
د افغان خبريالانو د کډوالۍ د قضيو پرمختګ ډېر ورو روان دی او په اوسنيو ناوړه شرايطو کې يو ورځنی ځنډ هم ډېر ستونزمن او سخت تمامېږي، خو د خبريالانو د کډوالۍ د کيسونو پروسس او وروستۍ پربکړې خورا ډېر وخت نيسي.
هغه خبريالان چې په درېيمو هېوادونو کې بند دي او د امنيتي ننګونو او ستونزو له امله نه افغانستان ته ستنېدلی شي او نه په درېيمو هېوادونو کې د ژوند کولو شرايط لري، له اوسني وضعيت يې د وتلو يوازينۍ لاره دا ده چې د پناه غوښتنو قضيې يې په عاجل ډول پروسس شي او د دوی او د کورنيو ژوند يې وژغورل شي.

دويم: د کډوالۍ قضيو ته د UNHCR نه‌پاملرنه او اوږد ځنډ:
په درېيمو هېوادونو کې مېشت افغان خبريالان د ملګرو ملتونو د کډوالۍ له عالي کمېشنرۍ سره هم قضيې لري خو تر بل هر وخت ورته هېڅ پاملرنه نه ده شوې او د سليقوي برخوردونو په اساس د افغان خبريالانو قضيې په بېساري ډول په ناڅرګند وضعيت کې دي. افغان خبريالان د خپل حق غوښتنه کوي او هيله لري چې د ملګرو ملتونو د کډوالۍ عالي کمېشنري د دوی د پناه غوښتنې قضيې په عاجل ډول پروسس کړي.

درېيم: په درېيمو هېوادونو کې د افغان خبريالانو امنيتي ستونزې او ننګونې:
افغان خبريالان په درېيمو هېوادونو کې له امنيتي ستونزو او ننګونو سره مخ دي او لسګونه خبريالان د نامعلومو وسله والو له خوا ځورول شوي، وهل شوي او ان د خبريالانو ژوند يې هم ګواښلی دی. په پاکستان کې يو شمېر افغان خبريالان د نامعلومو وسله والو له خوا په نښه او ټپيان شوي دي. په پاکستان کې يو زيات شمېر خبريالان اوس هم له امنيتي ګواښونو سره مخ دي، چې نړيوالو رسنيو يې راپورونه ورکړي او يو شمېر ملاتړو سازمانونو پرې اندېښنې هم ښوولې دي.

څلورم: د کاري فرصتونو نشتوالی:
افغان خبریالان په پاکســـتان، هند، ایران او ترکیه کې د ژوند چارو پـــر مخ وړلو لپاره په درپیم هیواد کې عاید ته اړتیا لري. دوی سختو کارونو او مزدورۍ ته مخه کړې، خو له سختو کارونو سره سره بیا هم کولای نه‌شي، د کورنۍ لګښتونه پوره کړي. هغوی کولای نه‌شي ځان او خپلو کورنیو ته د ژوند لومړنۍ اسانتیاوې هم برابرې کړي، چې د ژوند، کورنۍ او ماشومانو لپاره یې خورا ننګونی حالت دی.

پنځم: د وېزې نه‌تمدید، د کورونو او د اوسېدو ځایونو لوړ لګښتونه:
په پاکســـتان، ایران، هند او ترکیه کې د وېزو او اســـتوګنې د اســـنادو د تمدید او اخیســـتو بهیر د افغان خبریالانو لپاره ډېر ســـتونزمن او پېچلی دی او د وېزو له نه تمدید سره د مېشتو هېوادونو د امنیتي ادارو له خوا له نیولو، ځورولو او ربړولو سره مخ او اندېښمن کېږي او تر ټولو مهمه اندېښنه یې خپل هېواد ته د بېرته جبري ستنولو ده چې ټول افغان خبریالان ورسره مخ دي.

شپږم: رواني او روحي ستونزې:
په درپیمو هېوادونو کې مالي ســـتونزې، د قضیو نه پروســـس، د سازمانونو او ســـفارتونو له خوا ردېدل، ناڅرګند وضعیت، امنیتي ســـتونزې او ګڼ نور فشـــارونه هغه څه دي چې افغان خبریالان یې په روحي او رواني لحاظ تر بل هر وخت سخت ځپلي او زیانمن کړي دي. افغان خبریالان په درپیمو هېوادونو کې د ځان، کورنۍ او خپلو ماشومانو د رواني حالت په تړاو ژورې اندېښنې لري او دا حالت د راتلونکې ناڅرګندې اوضاع سره نور هم سختېږي.

اووم: روغتیایي خدمتونو ته د لاسرسي ستونزې او ربړې:
په درپیمو هېوادونو کې افغان خبریالان روغتیایي خدمتونو ته پوره او یا هېڅ لاس رسی نه‌لري چې د ا یې د کورنۍ او ماشـــومانو لپاره یې خورا نـــاوړه حالت دی. افغان خبریالان د خپلو ســـختو شرایطو له امله په شخصي روغتونونو کې د لوړ مالي لګښت له امله نه شي کولای چې د ځان، کورنۍ او ماشومانو درملنه وکړي او له جدي ناروغیو یې وساتي.
نهم: د خبریالانو د کورینو لپاره د ښوونیزو اسانتیاوو نشتوالی:
د افغان خبریالانو کورنۍ او ماشومان په درپیمو هېوادونو کې بنسټیز او روزنیز نصاب ته لاسرسی نه لري او له بشپړو ښوونیزو چارو بې برخې شوې دي. د دغو خبریالانو اولادونه په درپیمو هېوادونو کې په دولتي ښـــوونځیو او پوهنتونونو کې د زده کړو حق نه لري او د خصوصي ښوونځیو او پوهنتونونو ډېر لګښتونه د دې لامل شوی چې له زده کړو لرې پاتې شي او دا بې برخلیک ژوند یې له رواني ستونزو سره مخ کړي.

د خبریالانو د ملاتړو بنسټونو او د ملګرو ملتونو سازمان مسوولیتونه :
په اوســـني وضعیت کې د خبریالانو ملاتړي بنسټونه، د بشري حقونو مدافعین او د ملګرو ملتونو سازمان باید خبریالان په درپیمو هېوادونو کې په ناوړه حالت کې یوازې پرېنه‌ږدي او د دوی د ســـتونزو د حل لپاره په هر ډول شرایطو کې خپلې عاجلې هڅې وکړي او خپل مســـوولیتونه پر وخـــت ادا کړي، چې افغان خبریالان له اوږد مهالي او ناوړه ناڅرګند حالت ووځي.
د خبریالانو ملاتړي بنســـټونه او د بشري حقونو مدافعین بایـــد له ملګرو ملتونو سره په همغږۍ د لنډمهاله او منځمهاله کاري پروژو په عملي کولو سره، درپیمو هېوادونو کې مېشت خبریالانو ته د کار زمینه برابره کړي او د دغو پروژو په ترڅ کې د پیســـو په تادیه کولو سره د هغوی مسلکي تولیدات راټول او په معتبرو ویب پاڼو کې یې خپاره کړي.
د خبریالانو ملاتړي بنســـټونه او د ملګرو ملتونو اســـتازي باید د کډوال منونکو هېوادونو سفارتونو او د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمیـــشنرۍ (UNHCR) دفتر سره خبرې اترې پیل کړي او په عاجل ډول د افغان خبریالانو ژونـــد خوندي کړي. افغان خبریالان له ټولو ســـازمانونو او ملاتړو بنســـټونو نتیجه غـــواړي او د هر ډول ځنډ د مخنیوي لپاره عاجله غوښـــتنه او هیله کوي، چې دوی موخې‌وړ هېوادونو ته ولېږدول شي او ســـتونزې یې پای وموميي.

په درپیمو هېوادونو کې د خبریالانو غوښتنې:
لومړی: د خبریالانو د کډوالۍ قضیو ګړندي کول د بهیر پرمختګ:
د افغان خبریالانو د پورته جدي ستونزو څخه د وتلو لپاره چې په تفصیل سره ذکر شوې، د وتلو لپاره یوازینۍ

لاره دا ده چې هدف هېوادونو ته ژر انتقال شي او د پناه غوښتنې قضیې یې په عاجل ډول پروسس شي.
له UNHCR او د هدف هېوادونو له ســفارتونو سره جدي خبرې کول چې د افغان خبریالانو کیسونه په عاجل ډول وڅېړي له سفارتونو سره جدي خبرې وکړي او نتیجه ترلاسه کړي ، چې د افغان خبریالانو قضیې له ردېدو وژغورل شي او د پروسو د ژر ترسره کېدلو سربېره هدف هېوادونو ته واستول شي.

دویم: د خبریالانو لپاره د عایداتي سرچینو اسانتیا:
د کډوالۍ کیســونو په بهیر کې د ځنډ له امله د خبریالانو مالي سرچینې ختمې شوي او اړوند بنسټونه او نړیواله ټولنــه باید د افغان خبریالانو د مالي ننګونو د حل لپاره هغوی ته د عاید سرچینې پیدا کړي او یا دې عاجلې مالي مرستې ورسره وکړي چې هر ډول شفافیت او روښتیا ته پکې پام شوی وي.
درېیم: د خبریالانو او د هغوی د کورنیو رواني ستونزې:
د خبریالانو ملاتړي بنسټونه د هغو بنسټونو په تخنیکي ملاتړ چې رواني درملنه کوي، باید د افغان خبریالانو او د هغوی د کورنیو د رواني ستونزو د هواري لپاره ځانګړي میکانیزمونه جوړ کړي چې په درېیمو هېوادونو کې بند دي.

په دې برخه کې د سازمان ظرفیتونه او چمتووالی:
د افغانســتان له خبریالانو د ملاتړ سازمان چمتو دی چې په دې برخه کې خپلې هراړخیزې عملي هڅې ترسره کړي.
ســازمان هم بشري او هم لازم تخنیکي ظرفیت لري او همداراز د سازمان جوړېدو وجودي منطق د خبریالانو لپاره عدالتغوښــتنه، ظرفیت لوړونه او د افغان خبریالانو، په ځانګړې توګه تبعید شویو خبریالانو، ستونزو ته رسېدنه ده.
مور کولای شــو د نړیوالو بنســټونو او زیانمنو خبریالانو ترمنځ د اړیکو په ټینګښت کې رغنده ونډه ترسره کړو، د خبریالانو د مسلکي هویت په پېژندنه کې مرسته وکړو او د نړیوالو ادارو په همکارۍ طرحه شوي پروګرامونه عملي کړو. د عدالت غوښتنې، ملاتړ، روزنیزو برنامو او د کاري فرصتونو رامنځتهکول د دې هڅو یوه برخه کېدای شي.
له نېکه مرغه، زمور ســازمان په لنډه موده کې د افغانســتان د خبریالانو تر منځ لــوړ اعتبار موندلی دی. مور، د افغانســتان د خبریالانــو لپاره د یو بډای او جامع ډیټابیس په جوړولو، او د افغانســتان دننه او بهر له رســنیزو بنســټونو، صنفي اتحادیــو، او افرادو سره د نږدې او پراخو اړیکو ټینګولو لــه لارې، چمتو یو چې په دې برخه کې همکاري وکړو.

په ډېر درناوي،
په تبعید کې افغان خبریالان او د افغانستان له خبریالانو د ملاتړ سازمان

RSF – Reporters Without Borders (Reporters Sans Frontières)
IMS – International Media Support
CPJ – Committee to Protect Journalists
FNF – Friedrich Naumann Foundation for Freedom (Friedrich-Naumann-Stiftung für die Freiheit)
Internews – Internews Network
JHR – Journalists for Human Rights
NED – National Endowment for Democracy
IFJ – International Federation of Journalists
UNHCR – United Nations High Commissioner for Refugees
PEN Canada – PEN Canada (part of PEN International)
Amnesty International – Amnesty International
CHRI – Commonwealth Human Rights Initiative
FIDH – International Federation for Human Rights (Fédération Internationale pour les Droits Humains)
ECPMF – European Centre for Press and Media Freedom
IPI – International Press Institute
Global Forum for Media Development (GFMD) – Global Forum for Media Development
Front Line Defenders – Protection for Human Rights Defenders at Risk
Open Society Foundations (OSF) – Support for Media Freedom and Human Rights
NHRF – Norwegian Human Rights Fund
MICT – Media in Cooperation and Transition